
# د افغانستان د رهایی سازمان د مشر

# ملگری ډاکتر فیض احمد د شهادت په مناسبت

# اعلامیه



(۱۳۶۵ _ ۱۳۳۵)

پتمنو وطنوالو !

بیا زمونږ په زړه پرهارجنو خوآزادی غوښتونکو او زړورو خلکو او د ډیری سختی لاری وهونکو او کړاوونو گالونکو خو د پولاد و نه کلکو او نه تسلیمید ونکو انقلابیانو ستر کاروان د رد وونکی تپ وخوړ :

د کال ۱۳۶۵ د مرغومی د میاشتی په ۱۲ نیټه ، زمونږ د هیواد ستر او نومیالی بچی ډاکتر فیض احمد ، د افغانستان د رهایی سازمان بنسټ ایښود ونکی او لارښود ، د مخکی څخه د یو پلان شوی توطئی او خیانت له کبله د گلبدین حکمتیار د جنایتکار باند له خوا په شهادت ورسید او په دې توگه د افغانستان د رهایی سازمان ، زمونږ د هیواد انقلابی غورځنگ او زمونږ د اتل ملت د روسیی ضد مقاومت جگړی یو ځیرک او پیاوړی مشر د لاسه ورکړ .

ملگری ډاکتر فیض احمد د ځوانی او د بنوونځی له وخته د سیاسی فعاله شاگردانو

څخه شمیرل کیږي چې د ممتاز شخصیت او پراخه انقلابي پوهې په لرلو سره د سلهاوو سیاسي
ځوانانو په منځ کې یوه ونلي او محبوبه څیره وه. په ۴۷ کلونو کې چې نوي دموکراتیک غورځنګ
(شعله جاوید) منځ ته راغی ده دغه غورځنګ د پلویانو په سیاسي روزنه او سازمان
ورکولو کې ستر رول ولوباوه او د وطن پلورونکو پرچمیانو او خلقیانو او د هغه وخت
د مذهبي متعصبینو د جریان مرتجع او تروریست مشرانو په ضد د یو پوه پلمیسن او مبلغ
په څیر د خلکو او په تیره بیا د روشنفکرانو په منځ کې د زیات درناوي او نفوذ څخه برخور-
دار و. ده په ۱۳۵۲ کال کې د شعله جاوید د غورځنګ د کار اشتباهاتو ته په
پاملرنې او د انقلابي تشکیلاتو د اهمیت په ژور درکولو سره یې "د افغانستان د خلکو
انقلابي ډله" (چې په ۱۳۵۹ کال کې یې نوم "د افغانستان د رهایي سازمان" باندې
بدل شو) تاسیس کړه. ډاکتر فیض احمد بې له ځنډه د ۱۳۵۷ کال د غوایي کودتا په
افغانستان باندې د روسانو د مستقیم تیري آغاز وباله او سره له دې چې پخپله د پخوانه
په پټه او سخت ژوند تیرولو مجبور و، د مسکو د لاس په نامه نوکرانو په توګه د پرچمیانو
او خلقیانو د افشا کولو او د وسله والې مبارزې د تدارك لپاره یې سازمان بسیج کړ. ډاکتر
فیض احمد د زمري د څوارلسمې نیټې د پاڅون (د بالاحصار پاڅون) په پلان جوړولو
او سازمان ورکولو کې ستر رول درلود. د دې پاڅون په ماتې خوړلو سره، دی د پاڅون
د یو شمیر نورو مشرانو سره ونیول شو خو د جلاتانو د منګولو نه د ده حماسه ایزه تیښته
چې د ده د ملګرو له خوا سازمان ورکړی شوې وه د تره‌کي – امین پر رژیم باندې سخت روحي
ګوزار و. زموږ په هیواد باندې د شوروي دولت د بربنډ تیري نه وروسته، د ده ترمشرتابه
لاندې سازمان په ډیره لږه موده کې وکولای شول د ښارونو څخه د خپل ځواك زیاته برخه
کلو ته ولیږدوي او په ملي جګړه کې فعاله ونډه واخلي. ده په اوسنۍ مقاومت جګړه کې،
د سازمان د افرادو د انقلابیتوب د سنجش اساسي معیار دوی د وطنپالنې په اندازه
کې ګاڼه او په دې باور و چې زموږ د هیواد د محرومو او زحمتکښو پرګنو خلاصون د
خپلواکۍ لاسته راوړلو پرته ممکن نه دی. په عین حال کې ده په ټینګار سره د سازمان غړو
ته وربښوډل او خبرداری یې ورکاوه چې څه هم روانه ملي جګړه مونږ د پاره عمده ده خو هیڅکله
نباید د فاشیستو بنیادګرایانو او په سر کې یې د ګلبدین د باند د خطر نه غافل واوسو.
ډاکتر فیض احمد د یو انقلابي او ترپایه پورې ټینګ ولاړ وطنپال په څیر په خپل ټول
سیاسي ژوند کې د یو پوه او متفکر مشر په خاصې پاکۍ مینې سره یې سازمان ته د روسیې ضد
او فاشیزم ضد ټولو ځواکونو په منځ کې د یووالي، د هیواد د بیلا بیلو ملیتونو د زیارکښانو
په منځ کې د ټینګ او نه شلیدونکي پیوند او د انقلابي غورځنګ د پیوستون او یو
موټي کیدو په لار کې لارښونه وکړه. د ډاکتر فیض احمد یاد به لکه د اکرم یاري او مجید
کلکاني او د غشان نورو پاکو او ځلاندو مشرانو د یاد په څیر د پرګنو په زړونو کې ترابده پورې
ژوندی وي.

که څه هم تر اوسه پورې د رهایي سازمان زیات غړي د ګلبدین د ناروغه باند له خوا

په شهادت رسیدلی دی ، خو دډاکتر فیض احمد وینو به یو ځل بیا ټولو ملی او انقلابی اوان تر ټولو خوشباوره افراد و ته باید ثابته کړیوی چی دغه تروریست باند څنګه د روسانو سره د مبارزی پر ځای هڅوی سره لاس په لاس کی زمونږ د هیواد آزادی بخښونکو ځواکونو او عناصرو په ضد لګه د نه مړید ونکی ځناور په شان د توطئی جوړولو په لټه او ټابوکی دی . تقریبا زمونږ د هیواد د روسیی ضد هیڅ یو سیاسی ځواك نشته چی ګلبدین د وحشی پیشو په شان په خپلو ناولو منګولو سره د هغوی مخ ته ټوپ نوی اچولی او په دې هکله یی ان په خپلو بنیادګرا اند یوالانو باندی هم رحم ندی کړی . د ډاکتر فیض احمد وینو ټولو ته په ډاګه کوی چی څنګه چی ګلبدین زمونږ د مظلومو خلکو په ضد د خپلو خیانتونو او جنایتونو په سبب او هم د ده د انسانی ضد ، دموکراتیك ضد او ماورا ارتجاعی افکارو په سبب د خلکو په منځ کی د نفوذ لرلو څخه محروم شوی دی او هم په ځان باندی د بی باوری او په پای کی د خپل منحرف شخصیت څخه راپیدا شوو زیاتو عقدو د لرلو په سبب د سیاسی مبارزی نه وحشت لری ، بنا پردی د وګړو ضد ټولو نړیوالو باند ونو د مشرانو په شان په لیونتابه سره فاشیستی لار و چارو او تروریزم ته لاس اچوی . خو انقلابی غورځنګ او د افغانستان د رهایی سازمان چی په خپل وار سره اته کاله کیږی د شوروی تیری کوونکی لوی مافوق قدرت سره په جګړه کی د پښو نه ندی غورځیدلی او نه به وغورځیږی ، د خاین ګلبدین او د ده د باند تباه کوونکو اعمالو نه به هیڅکله ونه ډار شی .

د ګلبدین فاشیستی باند زمونږ د ملت په ضد د بی شمیره جنایاتو په کولو سره چی تر ټولو سختو شرایطو کی د روسیی ضد جګړی سخت کړا وونه په زړورتیا سره زغمی ، ځان یی د ولسی پرګنو او سیاسی ځواکونو د بی اندازی کینی او غضب په مرکز کی د رولی دی . همدا شان دغه باند په پاکستان کی د سرو تیښتو لو او په سلها وو جنایاتو د کولو په اثر د پاکستان د دولت د سرخوږی او خجالتیا سبب ګرځیدلی دی ( البته پرته لدې چی نوموړی دولت زمونږ د آزادی بخښونکی جګړی دغه د شرم نه ډک داغ د قانونی تعقیب لاندی ونیسی ) . سره له دې د ګلبدین جنایتکار باند د ډاکتر فیض احمد په شهادت رسولو نه وروسته هڅه کوی څو په پاکستان کی د مختلفو لیکنو په جعلولو او خپرولو سره لمړی په خپل نه بخښونکی جنایت باندی پرده وغوړوی او د وهم په خپل خام فکر سره د رهایی سازمان په هکله زمونږ د وطنوالو او د پاکستان د خلکو په منځ کی بدګمانی او ابهام ایجاد کړي .

خو یوی خواته زمونږ د زرګونو مجاهد و او انقلابی وطنوالو او د افغانستان د رهایی سازمان زیاتو غړو ینی او د ډاکتر فیض احمد وینی زمونږ د خلکو د سترګو په وړاندی دي او بلی خواته ګلبدین او باند یی چی دغه وینی یی د سر او مخ نه څاڅی د روسانو سره د لاس یو کولو ، فساد ، جنایت او خیانت نه ډکی کارنامی سره ګوري .

څوك دی چی د ګلبدین دغه منحرف سړی د روغو او چټیاتو ته په ډیر لږ اهمیت قایل شی ؟ ګلبدین او باند یی هرڅومره چی په جنایت لاس پوری کړی ، هرڅومره بیشرمانه دروغ ووایی او عوامفریبی وکړي بیا هم زمونږ خلك به غافل ونه اوسی چی پرښږدی له یو وره

لیوه ووځی او له بله وره سپی رانوځی . زموږ خلك به اجازه ورنکړي چی هغه وخت چی روسی تیری کوونکی زموږ له وطن نه شړل کیږی ، د گلبدین بنیاد گرا او جنایتکار باند ډگرته په راوتلو سره یو وار بیا په افغانستان کی د ترور ، وروسته پاتیوالی او د منځنیو پیړیو د جهالت توره او ناوړه فضا یعنی د روسیی امپریالیزم د تیری نه لا خرابکاره شیز منځ ته راشی . هغه ورځ لری نده چی د گلبدین د ارتجاع او تروریزم زرگونو قربانیانو وینی زموږ د آزادی غوښتونکو خلکو د غښتلوا و پیاوړومټو په زور د دغه باند د سرکردگانو د فرد فرد له ستونی نه ( د حزب اسلامی عادی غړو حساب د گلبدین د باند نه جلا دی ) راوویستل شی .

اوس د ډاکتر فیض احمد بی وخته شهادت زموږ د هیواد ټول آزادی غوښتونکی انقلابیان او مجاهدین په ژور غم کی ډوب کړیدي . خو له هغه ځایه چی ډاکتر فیض احمد د گلبدین او دده د باند تر شکنجو لاندی خپل شهادت سره مونږ ته د اتلوال مقاومت او په خپلواکی غوښتونکی او ضد فاشیستی مبارزی باندی د ټینگار کولو همیشنی او الهام بخښونکی بل سرمشق پریښودلی دی ، له هغه ځایه چی ډاکتر فیض احمد د شلوکلونو نه زیات خپل سیاسی ژوند د هری شیبی په وقفولو او د خپلو وینو په تیولو سره زموږ په خاوره کی سور تخم کرلی دی چی راززغونید ل به یی په یقینی توگه د ریښتیانی خپلواکی او د گلبدین غوندی د مذهب تر بیرغ لاندی هر راز فاشیزم او تاریك فکری د جغ نه د بشپړی آزادی ضامن وی ، له هغه ځایه چی ډاکتر فیض احمد د رهایی سازمان په شان د یوپوخ شوی او جنگیالی سازمان بنسټ ایښودلی او روزلی یی دی چی جنگیالی یی د خپلواکی ، آزادی او ټولنیز عدالت په خاطر جگړه کی او د "امیر" گلبدین اودده د باند په شان انسانی ضد مرتجعینو په ضد مبارزه کی د ټوټی ټوټی کید و نه نه ډاریږی ، له هغه ځایه چی د ډاکتر فیض احمد په وینو زموږ د خلکو د خلاصون د لاری بیرغ سور شویدی او په زرگونو لاسونه مصمم دي چی دده پریوتلی ټوپك تر پای پوری تر و روستی بری پوری ډ زولی لوړ وساتی ، په دې صورت کی د ا غم خپل ځای د روسیی ضد او گلبدین د بنیاد گرایی ضد جگړی لا په ټینگه سره پر مخبیولوکی توفان راولاړ وونکی ارادی ته پریږدی . همدا اوس اوس یوه د غشان اراده د رهایی سازمان د غړو په وجود کی عالی او له خروش نه ډك تجسم لری او مسلما د آزادی د لاری نورو مبارزینو په وجود کی به هم بیلو بیلو اندازو سره یو نوی یون او پیوستون منځ ته راوړی .

د ډاکتر فیض احمد د شخصیت ، ژوند او ښود نوسیوری به د تل لپاره زموږ د گران افغانستان په فضا کی گرځی راگرځی . د ا سی سیوری چی د ټولو ریښتینو انقلابیانو په زړونو کی به د الهام او امید تومنه وی او زموږ د هیواد او خلکو د ټولو بد ذاتو تورو د ښمنانو لکه د گلبدین د باند په زړونوکی به وژونکی ډار راپیدا کړی .

د ډاکتر فیض احمد د شهادت د روند خبر ځی څود غږونو ، د روا و د ښتوځخه په تیرید وسره زموږ د خلکو هر یو ، ښځی او نارینه ، ځوان او ځوړ غوږ ته ورسیږی او دد وی

د تود واوښکو په څڅید و سره بې له شکه د وطن ، خلکو ، اسلام او د انسانیت له د ښمنانو لکه د ګلبدین د باند نه د هر و مرو غچ اخیستنې زړې به د دوی له درده ډکې سینې کې را وتوکیږی ·

مونږ یو وار بیا د خپلو نجیبو او آزادی غوښتونکو خلکو په وړاندې او د ملګری ډاکټر فیض احمد د مینوالو خاطری په وړاندې لوړه کوو چې دده نه راپاتې شوی ستر چار به په پټ سره بې له تزلزله پر مخ بو ځو او هر هغه څه چې یې مونږ ته د هیواد او ځورېدلو خلکو د نیکمرغې سره د مینې په هکله راښودلې دی ، په ایمانداری سره به یې په عمل کې پلی کړو او یوازې دده د لوړو آرمانونو بریالیتوب ته په رسولو سره ده چې وبه کولای شو انتقام یې څنګه چې ښیئی واخلو ·

په ملګری شهید ډاکټر فیض احمد تاوده درود و نه او همیشنی یاد !
مرګ په روسی تیری کوونکو او د دوی په پرچمی او خلقی نوکرانو !
مرګ او نفرت د ګلبدین په جنایتکار باند باندی !
بریالی دی وي زمونږ د ملت آزادی بخښونکی روسی ضد جګړه !
ژوندی دی وی د افغانستان د رهایی سازمان !

**د افغانستان د رهایی سازمان**

کال ۱۳۶۶ د ثور اسمه

تکثیر د هیواد د ښځه سپهر.